# لقمان

**مکی سورة دی ۳۴ آیتونه لری**

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

الٓمٓ ﴿١﴾

**الف- لام- میم( په حقیقی معنی یې الله تعالی او رسول صلی الله علیه وسلم ښه پوهیږی).**

تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡحَكِيمِ ﴿٢﴾

**دا له حکمتونو څخه د ډک( با عظمته) کتاب آیتونه دی.**

هُدٗى وَرَحۡمَةٗ لِّلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٣﴾

**چې( سر تر پایه) هدایت او رحمت دی د نیکو کارانو لپاره.**

ٱلَّذِينَ يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَهُم بِٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ يُوقِنُونَ ﴿٤﴾

**هغوی چې( له اصولو او ارکانو سره سم) لمونځونه کوی، زکاتونه ورکوی او د آخرت په راتګ باورمن دی.**

أُوْلَٰٓئِكَ عَلَىٰ هُدٗى مِّن رَّبِّهِمۡۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ﴿٥﴾

**همدوی دی چې د رب له خوا یې د هدایت( په مستقیمه لار) روان او بریمن او نیکمرغه دی.**

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَشۡتَرِي لَهۡوَ ٱلۡحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ بِغَيۡرِ
عِلۡمٖ وَيَتَّخِذَهَا هُزُوًاۚ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٞ مُّهِينٞ ﴿٦﴾

**او په خلکو کې داسې کسان هم شته چې لهوالحدیث( عبث او بې ګټې افسانې، د موسیقی آلات او عشقی سندرې) په بیه اخلی او په ناپوهی او بې علمی سره پرې (خلک) د الله تعالی له لارې بې لارې کوی، او په الهی احکامو او آیتونو ټوکې او ملنډې وهی( چې ښه مثال یې مشرک نضر بن حارث دی چې په تجارتی سفرونو کې یې بېهوده او د لهو او لعب داستانونه په پیسو رانیول او مکې معظمې ته به یې راوړل او خلکو ته به یې ویل چې محمد تاسو ته د عاد او ثمود کیسې کوی،او لمونځ، روژې او شهادت ته مو هڅوی، راشئ چې زه درته د رستم او اسفندیار او آریانا د پاچاهانو د اتلولئ واقعی او خوندور داستانونه واوروم). بیشکه چې دا ډول کسان به له سپکوونکی عذاب سره مخامخ وی.**

وَإِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِ ءَايَٰتُنَا وَلَّىٰ مُسۡتَكۡبِرٗا كَأَن لَّمۡ يَسۡمَعۡهَا كَأَنَّ فِيٓ
أُذُنَيۡهِ وَقۡرٗاۖ فَبَشِّرۡهُ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ٧

او کله چې هغه ته زمونږ آیتونه ولوستل شی، په غرور او تکبر سره مخ داسې واړوی، لکه چې بیخی یې اوریدلی نه وی. ته به وا غوږونه یې کاڼه او درانه دی. نو هغه ته د دردناک عذاب زیری ورکړه.

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُمۡ جَنَّٰتُ ٱلنَّعِيمِ ٨

او یقیناً هغه کسان چې ایمان یې راوړی، او نیک عملونه کوی، په نعمتونو ډک جنتونه به یې په برخه وی.

خَٰلِدِينَ فِيهَاۖ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٗاۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٩

هلته به تل تر تله هستوګن وی. دا د الله تعالی وعده ده او بیشکه چې هغه برلاسی او حکیم ذات دی.

خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ بِغَيۡرِ عَمَدٖ تَرَوۡنَهَاۖ وَأَلۡقَىٰ فِي ٱلۡأَرۡضِ رَوَٰسِيَ أَن تَمِيدَ
بِكُمۡ وَبَثَّ فِيهَا مِن كُلِّ دَآبَّةٖۚ وَأَنزَلۡنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَنۢبَتۡنَا فِيهَا مِن
كُلِّ زَوۡجٖ كَرِيمٍ ١٠

آسمانونه یې لکه چې یې وینی، بې ستنو او بې پایو پیدا کړی او په ځمکه کې یې ټینګ او مستحکم غرونه درولی چې( د بحری امواجو، سختې سیلۍ او نورو طبیعی حوادثو په وړاندې مقاومت وکړی او) په تاسو و نه لرزیږی، او په ځمکه کې یې هر ډول ساکښ او ژوی خواره کړی، او له آسمانه مو اوبه رانازلې کړی او د هغو په وسیله مو هر ډول ښکلی او ګټور نباتات( او ونې او بوټی )رازرغون کړیدی.

هَٰذَا خَلۡقُ ٱللَّهِ فَأَرُونِي مَاذَا خَلَقَ ٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦۚ بَلِ
ٱلظَّٰلِمُونَ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ١١

همدغه دی د الله تعالی خلقت. نو ماته وښیۍ چې ستاسو باطل خدایان چې د الله تعالی په مقابل کې مو غوره کړی، څه شیان پیدا کولی شی، بلکه حقیقت دا دی چې ظالمان په څرګنده ګمراهۍ کې روان دی.

وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا لُقْمَٰنَ ٱلْحِكْمَةَ أَنِ ٱشْكُرْ لِلَّهِ ۚ وَمَن يَشْكُرْ فَإِنَّمَا يَشْكُرُ

لِنَفْسِهِۦ ۖ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِىٌّ حَمِيدٌ ﴿١٢﴾

او بیشکه چې موږ لقمان ته حکمت(عقل او پوهه ورکړه او ورته مو وویل چې) د الله تعالی شکر په ځای کړه او څوک چې د الله تعالی شکر او احسان ومنی، ګټه يې خپله ده، او څوک چې ناشکره وی( الله تعالی ته هيڅ زيان نشی رسولی ځکه هغه جامع الصفات او منبع الکمالات )او پخپله محمود او ستايل شوی بې نيازه ذات دی( او د آسمانونو او ځمکې ټول مخلوقات د حال په ژبه د هغه په حمد او ثنا مصروف دی).

وَإِذْ قَالَ لُقْمَٰنُ لِٱبْنِهِۦ وَهُوَ يَعِظُهُۥ يَٰبُنَىَّ لَا تُشْرِكْ بِٱللَّهِ ۖ إِنَّ

ٱلشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ ﴿١٣﴾

او کله چې لقمان خپل ځوی ته د نصيحت په ترڅ کې وويل: ای زما ځويه ګوره چې له الله تعالی سره شريک و نه نيسې، ځکه شرک( يعنې عاجز مخلوق ته د مقتدر خالق مقام ورکول، او په لاس جوړو شويو بتانو ته د اشرف المخلوق انسان سر ټيټول او عبوديت )يو ډير لوی ظلم دی.

وَوَصَّيْنَا ٱلْإِنسَٰنَ بِوَٰلِدَيْهِ حَمَلَتْهُ أُمُّهُۥ وَهْنًا عَلَىٰ وَهْنٍ وَفِصَٰلُهُۥ

فِى عَامَيْنِ أَنِ ٱشْكُرْ لِى وَلِوَٰلِدَيْكَ إِلَىَّ ٱلْمَصِيرُ ﴿١٤﴾

او انسان ته مو دهغه د پلار او مور د منلې او شکريې سپارښتنه وکړه، ځکه مور يې دی پخپل نس کې ساتلی او له يوې کمزورۍ نه وروسته وربانډې بله کمزوری راغلی او تر دوو کلونو يې ورته تې هم ورکړی( او دا سپارښتنه مو هم ورته کړی چې) زما او د خپل پلار او مور شکر په ځای کړه( او په پام کې وساته) چې بالاخره ( ټول) زما حضور ته احضاريدونکی ياست.

وَإِن جَٰهَدَاكَ عَلَىٰٓ أَن تُشْرِكَ بِى مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌ فَلَا

تُطِعْهُمَا ۖ وَصَاحِبْهُمَا فِى ٱلدُّنْيَا مَعْرُوفًا ۖ وَٱتَّبِعْ سَبِيلَ مَنْ أَنَابَ

إِلَىَّ ۚ ثُمَّ إِلَىَّ مَرْجِعُكُمْ فَأُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿١٥﴾

او که( پلار او مور) دې تا، دې ته وهڅوی چې په ناپوهۍ او جهالت سره زما سره( په ربوبیت کې) شریکان غوره کړې، نو اطاعت یې مه کوه خو بیا هم ورسره په دنیوی چارو کې نیکه رویه وکړه، او د هغه چا پیروی کوه چې( په توبه، ایمان او اخلاص یې ) ماته رجوع کړې، بیا تاسو ټول زما حضور ته راځئ چې ستاسو د اعمالو په نتایجو به مو خبر کړم،(او اولادونو، والدینو او ټولو ته به متجاوز او مقصر ور وپیژندل شی).

يَٰبُنَيَّ إِنَّهَآ إِن تَكُ مِثۡقَالَ حَبَّةٖ مِّنۡ خَرۡدَلٖ فَتَكُن فِي صَخۡرَةٍ أَوۡ فِي
ٱلسَّمَٰوَٰتِ أَوۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ يَأۡتِ بِهَا ٱللَّهُۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَطِيفٌ خَبِيرٞ ١٦

( لقمان وویل:)ای زما ځویه! که ستا عمل د اوری د دانې په اندازه وی، او په یوه لویه ډبره کې پټ وی او یا هم د آسمانونو او ځمکې په کوم کونج کې وی، الله تعالی به یې د قیامت په ورځ( د حساب کتاب) لپاره راوباسی، بیشکه چې الله پاک ډیر ژورلیدونکی او پوه ذات دی.

يَٰبُنَيَّ أَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ وَأۡمُرۡ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَٱنۡهَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ وَٱصۡبِرۡ
عَلَىٰ مَآ أَصَابَكَۖ إِنَّ ذَٰلِكَ مِنۡ عَزۡمِ ٱلۡأُمُورِ ١٧

ای زما ځویه! لمونځ قایم ساته او خلکو ته په نیکو چارو امر کوه او له نواهیو او منکراتو څخه یې راګرځوه( او د ستونزو او مصیبتونو په وخت کې) صبر او تحمل کوه ځکه دغه خواص د ټینګ عزم او جرأت ممثل ګڼل کیږی.

وَلَا تُصَعِّرۡ خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَلَا تَمۡشِ فِي ٱلۡأَرۡضِ مَرَحًاۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ
مُخۡتَالٖ فَخُورٖ ١٨

په غرور سره له خلکو مخ مه اړوه( حقیر او سپک یې مه ګڼه بلکه په تواضع او مینه ورسره خبرې کوه) او په ځمکه باندې خیالولی او په ناز او نخرو، مه ګرځه، ځکه چې الله تعالی ځان خوښوونکی او فخر کوونکی نه خوښوی.

وَٱقۡصِدۡ فِي مَشۡيِكَ وَٱغۡضُضۡ مِن صَوۡتِكَۚ إِنَّ أَنكَرَ ٱلۡأَصۡوَٰتِ لَصَوۡتُ
ٱلۡحَمِيرِ ١٩

پخپل تګ کې اعتدال او منځنی رفتار غوره کړه( مه ډیر ګړندی ځه او مه ورو. بلکه په ناسته ولاړه، تګ او خبرو کې متانت، تواضع او وقار خپل کړه) او غږ دې هم ټیټ ساته ځکه تر ټولو بد آواز، د خرو هنګیدل دی.

أَلَمۡ تَرَوۡاْ أَنَّ ٱللَّهَ سَخَّرَ لَكُم مَّا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَأَسۡبَغَ عَلَيۡكُمۡ
نِعَمَهُۥ ظَٰهِرَةٗ وَبَاطِنَةٗۗ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُجَٰدِلُ فِي ٱللَّهِ بِغَيۡرِ عِلۡمٖ وَلَا
هُدٗى وَلَا كِتَٰبٖ مُّنِيرٖ ٢٠

آيا نه وينئ( اى انسانانو) چې الله تعالى د آسمانونو او ځمکې ټول موجودات او وسايل ستاسو لپاره مسخر او د ګټې اخستو وړ ګرځولي، او خپل پټ او ښکاره نعمتونه يې په تاسو زيات کړي او لورولي دي، او داسې خلک هم شته چې بې له علمه او دليله او بې له کوم هدايت او روښانه کتابه د الله تعالى په باب جرو بحث کوي.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱتَّبِعُواْ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ قَالُواْ بَلۡ نَتَّبِعُ مَا وَجَدۡنَا عَلَيۡهِ
ءَابَآءَنَآۚ أَوَلَوۡ كَانَ ٱلشَّيۡطَٰنُ يَدۡعُوهُمۡ إِلَىٰ عَذَابِ ٱلسَّعِيرِ ٢١

او کله چې هغوى ته وويل شي د الله تعالى د نازل کړى شويو( احکامو او هداياتو) پيروى وکړئ، وايي: مونږ يوازې د هغو شيانو پيروى کوو، چې خپل پلرونه او نيکونه مو ورباندې ليدلي دي( آيا په پټو سترګو د خپلو اجدادو پيروى کوى؟) که څه هم چې شيطان يې( د اجدادو د پيروۍ په نوم) سوزوونکى عذاب ته راکاږي.

۞ وَمَن يُسۡلِمۡ وَجۡهَهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِ وَهُوَ مُحۡسِنٞ فَقَدِ ٱسۡتَمۡسَكَ
بِٱلۡعُرۡوَةِ ٱلۡوُثۡقَىٰۗ وَإِلَى ٱللَّهِ عَٰقِبَةُ ٱلۡأُمُورِ ٢٢

او څوک چې په اخلاص او پاک نيت سره الله تعالى ته ځان وسپاري او نيک عملونه هم کوي، په رښتيا چې يوې مستحکمې مرجع ته يې ځان سپارلى، او دا چې د ټولو کارونو او چارو انجام او عاقبت د الله تعالى حضور ته ورګرځي( نو د ده انجام او عاقبت به هم ډير نيکمرغه وي).

وَمَن كَفَرَ فَلَا يَحۡزُنكَ كُفۡرُهُۥٓۚ إِلَيۡنَا مَرۡجِعُهُمۡ فَنُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوٓاْۚ إِنَّ
ٱللَّهَ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ٢٣

او څوک چې کافر وي، نو کفر يې بايد ستا د خواشينۍ سبب نشي ځکه ټول زمونږ حضورته راګرځي او د خپلو اعمالو نتايج به ووينى، بيشکه چې الله پاک د زړونو په ارادو او اسرارو ډير ښه پوهيږي.

نُمَتِّعُهُمْ قَلِيلًا ثُمَّ نَضْطَرُّهُمْ إِلَىٰ عَذَابٍ غَلِيظٍ ﴿٢٤﴾

( کافرانو ته به) څه لږ شان مادی نعمتونه ورکړو خو بیا به یې له سخت عذاب سره مخامخ کړو.

وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ ۚ قُلِ الْحَمْدُ
لِلَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٢٥﴾

او که له هغوی نه پوښتنه وکړې چې آسمانونه او ځمکه چا پیدا کړی؟ بې له ځنډه به ووایې چې الله تعالی (پیدا کړی). نو ( ای پیغمبره له دغه اقرار نه وروسته ورته) ووایه: ټولې ستاینې الله تعالی ته ځانګړی دی، بلکه زیاتره کسان یې پوهه او معرفت نه لری.

لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ إِنَّ اللَّهَ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيدُ ﴿٢٦﴾

د آسمانونو او ځمکې ټول موجودات د الله تعالی مخلوق او مملوک (او هغه ته محتاج) دی، خو الله تعالی له ټولو نه بې نیازه او ستایل شوی او بالذات د ټولو عزتونو او محاسنو مالک دی.

وَلَوْ أَنَّمَا فِي الْأَرْضِ مِن شَجَرَةٍ أَقْلَامٌ وَالْبَحْرُ يَمُدُّهُ مِن بَعْدِهِ
سَبْعَةُ أَبْحُرٍ مَّا نَفِدَتْ كَلِمَاتُ اللَّهِ ۗ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٧﴾

او که د دنیا ټولې ونې قلمونه او سمندر (مشوانې) شی او لا نور اوه بحرونه هم ورسره ملګری شی،بیا به هم د الله تعالی کلمات( تعریفات،توصیفات،محامد او محاسن او ثنا) پای ته و نه رسی.بیشکه چې الله تعالی( د احکامو په انفاذ) برلاسی او د حکمت څښتن ذات دی( چې ټول اقدامات یې په پوره تدبیر او مصلحت ولاړ دی).

مَّا خَلْقُكُمْ وَلَا بَعْثُكُمْ إِلَّا كَنَفْسٍ وَاحِدَةٍ ۗ إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ
بَصِيرٌ ﴿٢٨﴾

ستاسو( او د ټول جهان او کائناتو) پیدایښت او بیرته مو راژوندی کول( زمونږ لپاره) د یوه تن (د پیدا کیدو او راژوندی کیدو) په شان( آسان) دی، یقیناً چې الله تعالی( د هر چا د خبرو) اوریدونکی او( د حالاتو او اوضاع) لیدونکی ذات دی.

أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يُولِجُ ٱلَّيۡلَ فِي ٱلنَّهَارِ وَيُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِي ٱلَّيۡلِ وَسَخَّرَ

ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ كُلّٞ يَجۡرِيٓ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗى وَأَنَّ ٱللَّهَ بِمَا تَعۡمَلُونَ

خَبِيرٞ ٢٩

آیا نه وینې( مخاطبه) چې الله تعالی شپه په ورځ رانغاړی او ورځ په شپه. او لمر او سپوږمۍ یې تابع کړی چې هر یو تر یوې ټاکلې مودې( قیامت پورې) په حرکت کې دی، او (آیا نه پوهیږې چې) الله تعالی ستاسو په ټولو کړنو ډیر ښه خبر دی.

ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡحَقُّ وَأَنَّ مَا يَدۡعُونَ مِن دُونِهِ ٱلۡبَٰطِلُ وَأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡعَلِيُّ

ٱلۡكَبِيرُ ٣٠

(دغه حیرانوونکی پیدایښت او دغه تغیرات او تحولات د دې حقیقت ګواهی ورکوی چې) یوازې او یوازې الله تعالی حق دی او له هغه نه غیر، نور شیان چې( ځینې خلک یې)عبادت کوی باطل او ناروا دی، او بیشکه چې الله تعالی د لوړې او اعلی مرتبې څښتن ذات دی.

أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱلۡفُلۡكَ تَجۡرِي فِي ٱلۡبَحۡرِ بِنِعۡمَتِ ٱللَّهِ لِيُرِيَكُم مِّنۡ ءَايَٰتِهِۦٓۚ إِنَّ

فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّكُلِّ صَبَّارٖ شَكُورٖ ٣١

آیا نه پوهیږې چې کښتۍ د الله تعالی په نعمتونو( باد او نورو وسایلو) سره په سمندر کې روانې دی تر څو (الله تعالی) د خپل قدرت ځینې نښانې تاسو ته څرګندې کړی، بیشکه چې په دغه( واقعیت) کې د هر صابر احسان منونکی لپاره( د الله تعالی د توحید، قدرت او ربوبیت) نښې پرتې دی.

وَإِذَا غَشِيَهُم مَّوۡجٞ كَٱلظُّلَلِ دَعَوُاْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ فَلَمَّا نَجَّىٰهُمۡ

إِلَى ٱلۡبَرِّ فَمِنۡهُم مُّقۡتَصِدٞۚ وَمَا يَجۡحَدُ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَّا كُلُّ خَتَّارٖ

كَفُورٖ ٣٢

او کله چې سمندری څپه د چترۍ په ډول خپله غیږه له دوی راچاپیره کړی، په پوره اخلاص او پاک ایمان او عبادت سره د الله تعالی دربار ته د دعا لاسونه اوچتوی، خو کله چې ورته وچې ته په رسولو، نجات ورکړو، نو ځینې( لږ شمیر یې د توحید) په معتدله او منځنی لار روانیږی( او ځینې یې خپلې وعدې ماتوی) او همدغه کافر او خاین وعده ماتوونکی دی چې زمونږ له آیتونو منکر دی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمۡ وَٱخۡشَوۡاْ يَوۡمٗا لَّا يَجۡزِي وَالِدٌ عَن وَلَدِهِۦ وَلَا مَوۡلُودٌ هُوَ جَازٍ عَن وَالِدِهِۦ شَيۡـًٔاۚ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞۖ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا وَلَا يَغُرَّنَّكُم بِٱللَّهِ ٱلۡغَرُورُ ٣٣

ای انسانی پرګنو! د خپل رب (له غضبه) ځان وساتی، او له هغې ورځې وویریږئ چې نه به پلار خپل زوی، او نه به زوی خپل پلار له عذابه خلاص کړی شی. بیشکه چې د الله تعالی وعده حقه ده نو مه د دنیا په ژوند تیروزئ او مه د شیطان په لمسون د الله تعالی( په رحمت او مهربانئ) غره کیږی.

إِنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥ عِلۡمُ ٱلسَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ ٱلۡغَيۡثَ وَيَعۡلَمُ مَا فِي ٱلۡأَرۡحَامِۖ وَمَا تَدۡرِي نَفۡسٞ مَّاذَا تَكۡسِبُ غَدٗاۖ وَمَا تَدۡرِي نَفۡسُۢ بِأَيِّ أَرۡضٖ تَمُوتُۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرُۢ ٣٤

د قیامت علم یوازې له الله تعالی سره دی، باران هم یوازې د هغه په امر راوریږی، د ( میندو) په ارحامو کې د شته مخلوقاتو( په سرنوشت او مشخصاتو) هم یوازې الله تعالی ښه پوهیږی. هیڅوک ته د خپلې سبانی ورځې( د خیر او شر) معلومات نشته، او نه ورته د خپل مرګ ځایونه معلوم دی( بلکه یوازې الله تعالی وربانډې پوهیږی) بیشکه چې الله تعالی په ټولو چارو پوه او خبیر ذات دی.

« تمت سورة لقمان بفضل الله و رحمته»

========================